ژورنال بین المللی فرهنگ پوهنتون تخار

Research Article

نویسنده مسوول: محمد نظیر روحانی
تاریخ دریافت: ۱۴۰۴/ ۷/ ۱۵
تاریخ قبول: ۱۴۰۴/ ۹/ ۱۴
تاریخ نشر: ۱۴۰۴/ ۱۱/ ۳۰

# د خوشحال بابا په اشعاروکې د مېړانې تطبیقي تحلیل

پوهنمل محمد نظیر روحانی
عضو کادر علمی دیپارتمنت زبان و ادبیات پشتو پوهنتون تخار
ایمیل: rohani۱۹۸۰@gmail.com

**لنډیز**

دا څېړنه د پښتو د ستر شاعر خوشحال خان خټک په اشعارو کې د مېړانې او اتلولۍ د مفکورې تطبیقي تحلیل وړاندې کوي. خوشحال بابا د پښتنو د ټولنیز فکر بنسټګر شاعر بلل کېږي، چې په خپل شعر کې یې د مېړانې، وفاداری، جګړې، غیرت او ازادۍ موضوعګانې د ژوندانه د اصلي ارزښتونو په توګه انځور کړې دي. په دې مقاله کې د هغه د اشعارو متونه د ادبي، ټولنیز او فلسفي اړخونو له مخې تحلیل شــوي، څو څرګنده شي چې د مېړانې مفهوم د پښــتني ټولنیز ژوند په رامنځ ته کولو کې څه ځای لري. څېړنه په پایله کې دې نتیجې ته رسېږي چې خوشحال بابا د مېړانې د ارزښت په واسطه د فرد او ټولنې د هویت او بقا فلسفه تشریح کړې ده. خوشحال خان خټک، نه یوازې یو ستر شاعر و، بلکې یو سیاسي مشر، فکري لارښود او د خپل وخت انقلابي مبارز هم و. مېړانه د هغه له نظره یوازې یو فزیکي قوت نه، بلکې یو اخلاقي او ارزښتي معیار و. مقاله د تاریخي، ادبیاوفلســفي تحلیل له لارې ښــیي چې دا مفکوره د پښتني ټولنیز جوړښت یوه بنسټیزه برخه وه او د نننۍ نړۍ لپاره هم معاصر پیغام لري.

کلیدي کلمې: اخلاق، پت، خوشحال، مېړانه، مېړنی.

## AN APPLIED ANALYSIS OF BRAVERY IN THE POETRY OF KHUSHAL BABA

**Abstract**

This study presents an applied analysis of the concept of bravery and heroism in the poetry of the great Pashto poet Khushal Khan Khattak. Khushal Baba is regarded as a foundational poet of ,Pashtun national and social thought, who depicted themes such as bravery, loyalty, warfare, honor and freedom as core values of life in his poetry. This article analyzes selections of his poems from literary, social, and philosophical perspectives to highlight the role of bravery in shaping Pashtun. The research concludes that Khushal Baba used the value of bravery to articulate a social life philosophy of individual and communal identity and survival. Khushal Khan Khattak was not only a remarkable poet, but also a political leader, intellectual guide, and revolutionary figure of his time. In his view, bravery was not merely a form of physical strength, but a moral and value-based standard. Through historical, literary, and philosophical analysis, the article demonstrates that this concept constituted a fundamental aspect of Pashtun social structure and continues to carry a relevant message for the contemporary world .

**Keywords**: ethics, honor, Khushal, bravery, courageousness.

**سریزه**

بسم الله الرحمن الرحيم، الحمدلله ربّ العالمين، والصلاة والسلام على سيد الانبياء والمرسلين، محمدٍ وعلى آله وصحبه أجمعين.

الله جلّ جلاله ته حمد او ثنا ده، چې انسان ته یې د فکر، ژبې او بیان ځواک ورکړ، او د پوهې په رڼا کې یې د نړۍ د مانا موندلو توان ور وباښه. علم هغه الهي نعمت دی چې د ملتونو فکري هویت جوړوي، فرهنګونه ژوندي ساتي او ادب ته نوې ماناوې وربښي. مېړانه (شجاعت) په اسلامي فکري نظام کې یو لوړ اخلاقي او انساني ارزښت بلل کېږي، چې یوازې له فزیکي قوت سره نه، بلکې له حقویلو، صبر، استقامت او د ظلم پر وړاندې د درېدو له روحیې سره تړاو لري. قرآن کریم د مېړانې بنسټ د ایمان له ځواک سره تړي او مؤمنانو ته د حق په لاره کې د ثابت قدمۍ او زړورتیا بلنه ورکوي. الله تعالی فرمايي: «فَلاَ تَهِنُوا وَلاَ تَحْزَنُوا وَأَنتُمُ الأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ» (آل عمران: ۱۳۹) یعنې: مه کمزوري کېږئ او مه غمجن کېږئ، که مؤمنان یئ، نو تاسې به برلاسي يئ. دا آیت څرګندوي، چې مېړانه د ایماني ځواک څرګندونه ده، نه د ظاهري زور. همدارنګه قرآن کریم د حق لپاره د قربانۍ او زړورتیا ستاینه کوي او هغه کسان لوړ مقام ته رسوي، چې د وېرې پر ځای د حق ملاتړ کوي. د جهاد مفهوم، چې په اسلامي فکر کې ډېر ژور اخلاقي بُعد لري، یوازې جګړه نه، بلکې د نفس، ظلم او بېعدالتۍ پر وړاندې مبارزه هم رانغاړي.

په نبوي سنتو کې هم مېړانه د اخلاقي فضیلت په توګه تعریف شوې ده. رسول الله ﷺ فرمايي: «لَيْسَ الشَّدِيدُ بِالصُّرَعَةِ، إِنَّمَا الشَّدِيدُ الَّذِي يَمْلِكُ نَفْسَهُ عِندَ الْغَضَبِ» (بخاري او مسلم) ژباړه: زورور هغه نه دی چې خلک پر ځمکه وغورځوي، بلکې زورور هغه دی چې د قهر پر مهال پر خپل نفس واک ولري.

دا حدیث ښيي، چې اسلامي مېړانه تر ټولو وړاندې اخلاقي ځواک، ځانساتنه او فکري استقامت دی. له همدې اسلامي لیدلوري څخه مېړانه د عزت، غیرت، حقپالنې او ټولنیز مسئولیت سمبول ګرځي. دا هغه فکري بنسټ دی، چې وروسته یې د پښتني کلتور او ادبي روایت په ځانګړي ډول د خوشحال خان خټک په شاعرۍ کې ژور انعکاس موندلی دی. خوشحال بابا د اسلامي ارزښتونو تر اغېز لاندې مېړانه د فردي او قومي بقا شرط ګڼي او دا مفکوره د ديني، اخلاقي او ملي شعور په چوکاټ کې وړاندې کوي.

د موضوع طرحه داسې ده، چې د خوشحال بابا په اشعارو کې د مېړانې تطبیقي تحلیل" لپاره د علمي مقالې لومړنۍ برخې په علمي بڼه داسې بشپړې شوې دي، چې لنډیز سریزه، د څېړنې موخې، د څېړنې اهمیت، د څېړنې شالید، د څېړنې میتود،پوښتنې او اصله موضوع، پایله او ماخذونه راوړل شوي دي. ادب د یوې ټولنې د ارزښتونو، افکارو او ژوند د کړنو هنداره ده. خوشحال خان خټک، چې د پښتو ادب د کلاسیک دور ستر شاعر دی، په خپلو اشعارو کې د مېړانې، ازادۍ او جګړې ارزښت ته ځانګړی ځای ورکړی دی. د هغه د شعر نړۍ یوازې د ښکلا د بیان ساحه نه ده، بلکې د پښتنو د ټولنیز ژوند فلسفي او ولسي کیسې پکې انځور شوې دي. د همدې لپاره د خوشحال بابا د اشعارو تحلیلي مطالعه د پښتنو د ادبي او فرهنګي تاریخ په درک کې ځانګړې اهمیت لري. د هغه شاعري نه یوازې ادبي ارزښت لري، بلکې سیاسي، ټولنیز او فکري ژوروالی هم لري. د هغه د اشعارو یو له مهمو موضوعاتو څخه مېړانه ده. په دې مقاله کې هڅه کیږي، چې د خوشحال خان د شاعرۍ له لارې دا درک کړي چې هغه مېړانه څنګه تعریفوي؟ دا مفکوره له کوم فرهنګي او تاریخي بُن څخه سرچینه اخلي؟ او له کومو اخلاقي او ټولنیزو ارزښتونو سره تړلې ده؟

**د څېړنې موخې**

د خوشحال بابا په اشعارو کې د مېړانې د مفهوم ادبي او فلسفي تحلیل.

د مېړانې د ارزښت ټولنیز او تاریخي اړخونه څرګندول.

د فردي مېړانې او ټولنیزې مېړانې ترمنځ توپیر او تړاو ښودل.

د پښتني فرهنګ په رامنځته کولو کې د مېړانې رول ارزول.

**د څېړنې اهمیت**

دا څېړنه د پښتو ادب د یوه ستر مفکر د افکارو د نوې لوستنې هڅه ده. خوشحال بابا د مېړانې له لارې د پښتنو د هویت او یووالي پیغام وړاندې کړی، چې تر نن ورځې پورې یې اغېز د پښتنو په فرهنګ او ادب کې لیدل کېږي. د دې څېړنې ارزښت په دې کې دی چې د خوشحال بابا اشعار نه یوازې ادبي، بلکې ټولنیز، تاریخي او فلسفي اړخونه لري، چې د پښتني ټولنې د پېژندنې لپاره بنسټیز حیثیت لري.

**د څېړنې شالید**

د خوشحال بابا په اړه ګڼې څېړنې شوې دي چې زیاتره یې د هغه د شاعرۍ عمومي ځانګړنې، سیاسي مبارزه اود پښتني یووالي له فکر سره تړلې دي. خو د مېړانې د ځانګړي مفهوم تطبیقي شننه لږه شوې ده. د پښتو ادب په نورو شاعرانو کې مېړانه ډېرې وخت د جګړې د اتلولۍ په بڼه انځور شوې، خو خوشحال بابا دې ته فلسفي ژورتیا ورکړې ده.

**د څېړنې مېتود**

په دې څېړنه کې کتابتوني او تحلیلي مېتود کارول شوی. د خوشحال بابا د دیوان بېلابېل اشعار د مېړانې د موضوع له مخې انتخاب شوي او د ادبي تحلیل، ټولنیز-فلسفي تفسیر او پرتله‌ییزې مطالعې له لارې څېړل شوي دي.

**د څېړنې پوښتنې**

۱. خوشحال بابا د مېړانې کومې ځانګړنې په خپلو اشعارو کې انځور کړې دي؟

۲. د فردي مېړانې او ټولنیزې مېړانې ترمنځ څه توپیر او تړاو شته؟

۳. د مېړانې مفهوم د پښتنو د هویت او ارزښتونو په رامنځته کولو کې څه ځای لري؟

٤. د خوشحال بابا د مېړانې نظر د نورو پښتنو شاعرانو د نظرونو سره څه توپیر لري؟

**د خوشحال بابا په اشعاروکې د مېړانې تطبیقي تحلیل**

۱. د مېړانې اصطلاحي او فرهنګي تحلیل

مېړانه په پښتني فرهنګ کې یو ټولنیز او اخلاقي ارزښت دی. دا مفهوم د انسان شجاعت، صداقت، عزم او عزت ته اشاره لري. خوشحال خان دا مفهوم د شاعرۍ له لارې عامو خلکو ته رسولی دی. هغه مېړانه نه یوازې د جنګ او جګړې په معنا کارولې، بلکې دا یې د ټولنیز عدالت، سیاسي شعور او اخلاقو استازیتوب بللی دی. دا ډول اشعار د ژوندانه پر ارزښتونو ژور تأمل کوي. – د پښتونولي، اجتماعي اخلاقو او ارزښتونو بحث. (شاه، ۱۹۹۲، مخ: ۴۴–۶۱)

خوشحال خان له مېړانې سره یو اخلاقي مسئولیت هم تړي. په سریزه کې د پښتنو ارزښتونه، مېړانه، عزت او پښتونولي. (هاوېل، ۱۹۶۳، مخ: ۱۲–۱۸)

۲. مېړانه د سیاسي مبارزې په چوکاټ کې

خوشحال خان د مغلو پر ضد مبارزه وکړه، ځکه چې هغه ته غلامي د مېړانې ضد عمل ښکارېده. د هغه سیاسي او شعري دریځ یو بل سره تړلي دي. د هغه دا فکر ډېر پیاوړی دی چې یو قام به هغه وخت ازاد وي، چې مېړانه، جرأت او اتحاد ولري. د خوشحال خان دا افکار یوازې ادبي نه،بلکې انقلابي دي. د هغه شاعري د قوم د ویښتابه یوه وسیله وه. – د مغلو پر ضد مبارزه، سیاسي دریځ او قومي یووالی.

(شاه، ۱۹۹۲، مخ: ۷۸–۹۰)

– د مقاومت، جرأت او د مشرۍ په اړه اشعار. (هاوېل، ۱۹۶۳، مخ: ۹۵–۱۰۸)

۳. مېړانه او اخلاق

خوشحال خان مېړانه یوازې د جنګ وینې بهېدو ته نه محدودوي، بلکې دا یو اخلاقي معیار ګڼي. هغه مېړانه د رښتینولي، وفاداری‌اوباعزته ژوند سره تړي، په دې معنا، د هغه له نظره مېړانه یو درونی حالت دی، نه یوازې یوه فزیکي ځانګړنه. – د اخلاقو، رښتینولی، وفادارۍ او نصیحتیه شعرونه.(هاوېل، ۱۹۶۳، مخ: ۱۲۰–۱۳۵)

– د خوشحال خان اخلاقي فلسفه او انساني کرامت. (شاه، ۱۹۹۲، مخ: ۹۲–۱۱۰)

۴. د ښځو د مېړانې انځورونه

که څه هم د خوشحال خان ډېری اشعار د نارینه د مېړانې انځورونه دي، خو هغه د ښځو په اړه هم د درناوي، وقاراوجرأت فکر وړاندې کوي. دا د پښتني ټولنې د ښځو د رول ستاینه ده. دا ښیي چې مېړانه یوازې جنس پورې محدوده نه ده. –د ښځو، کورنۍ، عزت او وقار یادونې.

(هاوېل، ۱۹۶۳، مخ: ۱۴۵–۱۵۲)

– په پښتني ټولنیز جوړښت کې د ښځې رول. (شاه، ۱۹۹۲، مخ: ٦۵–۷۰)

۵. د مېړانې د مفهوم نړیوال اړخ

د خوشحال خان خټک شاعري، که څه هم د پښتنو لپاره یوه ځانګړې معنا لري، خو د مېړانې مفکوره پکې د نړیوالو انساني ارزښتونو سره هم اړخ لګوي. لکه څنګه چې امام حسین د ظلم پر وړاندې د مبارزې سمبول دی، خوشحال خان هم د خپل قام لپاره د مېړانې استازی دی. دا افکار د انسان ازادۍ، وقاراوشجاعت ته وده ورکوي. –په سریزه کې د مېړانې نړیوال اړخ او اتلولي. (هاوېل، ۱۹٦۳، مخ: ۲۰–۲۵)

– د نړیوالو مبارزو، اتلانو او مقاومت پرتله.(شاه، ۱۹۲۲، مخ: ۱۱۲–۱۲۰)

مېړنی څوک دی؟

((پخوا مېړني ډېر لوړ مفهوم درلود، چاته به چې وویل شو ( مېړه دی!) نو دا سړی د ټولو هغو خویونو خاوند بلل کیده، کوم، چې دیو حقیقي مسلمان سره لازم وو. او دې سړي به یو خاص امتیاز او مقام لاره، مګر له چا څخه به، چې د مېړانې صفت ورک شواو ورته و به ویل شو چې ( مېړه نه دی ) نو د مېړانې له ډېرو اوصافو څخه به محروم بلل کېدو، خو خبره دلته وه چې دا ( مېړانه)کوم داسې شی نه وه چې بل چا به سړي ته ورکاوه او یابه یې له سړي څخه اخیسته، بلکې دا په خپله دسړي کارو چې دیوه مېړه خویونه به یې په ځان کې پیداکړه، بیابه خلکو ورته مېړه وایه او نه څوک یوازې په خبرو مېړه کېدای شو، مېړونو چې به څه ویل هغه یې کول، ))(روحاني،۱۴۰۴،ص.۷۴)

خوشحال خان هم کتل چې له خلکو څخه دامهم صفت ورو ورو ځي، نو مېړه داسې معرفي کوي:

د مېړني لږ ویل ډېر یې کول وي

مرد بـــــه نه شي په ګفتار
څو پیدا نــــه کړي کــــردار
(خټک،۱۳۸۷،ص:۴۵)

له مېړني څخه د غلیم په زړو کې ډار موجود وي:

خوشحال بابا مېړنی هغه څوک بولي چې  د ښکنځلو جرات هم څوک ورته ونه کړي او آن تر دې چې دوښمن ترې وډار شي، خوشحال بابا وايي:

چې دې وښکنځي مردنه يې

که له تا نـــــه وي پـــــه ډار

(ختیک،۱۳۸۷،ص:۴۵)

په دې اړه خدای تعالی هم وايي چې تاسو ځانونه هسې عيار کړئ،چې د الله دوښمنان او ستاسې دوښمنان له تاسو نه وډار شي، لکه د سُو ٝرَةُ الأنفَال په (٦٠) آيات کې خدای تعالی فرمايي:

وَأَعِدُّوا لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِۦ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَءَاخَرِينَ مِن دُونِهِمْ لَا تَعْلَمُونَهُمُ اللَّهُ يَعْلَمُهُمْ ۚ وَمَا تُنفِقُوا مِن شَيْءٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنتُمْ لَا تُظْلَمُونَ[سُو ٝرَةُ الأنفَال: ٦٠]

ژباړه: او تاسي تر خپلې وسې وسې ډېر زيات طاقت او تيار زين کړي اسونه، د هغوی د مقابلې لپاره برابر کړئ. تر څو چې په دې وسيله د الله پر دښمنانو، پر خپلو دښمنانو او پر هغو نورو دښمنانو هيبت راولئ، چې تاسي يې نه پيژنئ خو الله يې پېژني. د الله په لاره کښې چې تاسي هر څه ولګوئ، د هغو پوره بشپړ مکافات به ستاسي لوري ته راوګرځول شي. او ستاسي سره به هيڅکله ظلم ونه شي.

مېړنی به د انتقام حس لري:

خوشحال بابا انقام د مېړني کاراو دنده بولي لکه چې وايي:

چې څه دی خو انتقام دی

د مـــــــردانـــــــو کـــــار او بار

(ختیک،۱۳۸۷،ص:۴۵)

د انتقام په اړه خدای تعالی هم وايي: فَلَا تَحْسَبَنَّ اللَّهَ مُخْلِفَ وَعْدِهِۦ رُسُلَهُۥٓ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ ذُو انتِقَامٍ [سُو ٝرَةُ إبراهيم: ٤٧]

ژباړه: نو [اې پيغمبره (ص)!] ته هيڅکله دا ګومان مه کوه چې الله به په کوم وخت کښې له خپلو پېغمبرانو سره د کړيو وعدو پر خلاف کار وکړي. الله زورور او غچ اخيستونکی دی.

مېړنی به د عفوې حس ولري:

خوشحال بابا وايي چې د عفوې مقام تر انقام لوړ دی:

عفو هور تــــــــه ځای لرينه

چې نــــــــه عيب وي نه عار

(ختیک،۱۳۸۷،ص:۴۵)

خدای تعالی هم وايي چې که تاسي غچ اخلئ، نو هغومره واخلئ چې څومره پر تاسي تېرى شوى وي او که عفوه يې کړئ نو د عفوې مقام لوړ دی. [سُو ٝرَةُ النّحل: ١٢٦]

وَإِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوا بِمِثْلِ مَا عُوقِبْتُم بِهِۦ ۖ وَلَئِن صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ لِّلصَّابِرِينَ

ژباړه: که تاسي غچ اخلئ، نو هغومره واخلئ چې څومره پر تاسي تېرى شوى وي؛ خو که تاسي صبر وکړئ، نو په دې کښې شك نه شته چې دا د صبر کوونکو لپاره ډېره ښه ده.

چې غيرت ورڅخه نــــه وي

هغه مرد نـــــــــه دی پــه کار

هم مهـره لـــــري هم زهر
ښـــــه مـــردان وي لکه مار
چې هم دتندر هم باران وي
تـــر هغـــــو مـــــردانو ځار
مرد بـــــه غم د خپل هنر کا
نـــــه د زر نـه د دینـــــار
مرد بـــــه غم کا د خپل شرم
د عـــــزت د اعتبـــــار
نامرد فخر پـــــه نسب کا
مـــــرد نـــــه مور لري نه پلار
د خوشحال خبرې گوره
لعل و در پېي په تار
(ختېک، ۱۳۸۷، ص: ۴۵-۴۶)

((خوشحال بابا د مرد او نامرد لپاره خاصې پولې ټاکي، چې د هغو له مخې یو بل سره توپیروي)) (یون، ۱۳۸۷ل.ل، ص: ۹۰)
بل ځای وایي:

مېړني په کرده ډېر، ویل یې لږ وي
د نامردو لږ عمل وي ډېر یې لاف
(ختېک، ۱۳۸۷، ص: ٦٦)

مېړنی دغمونوسره کلک زړه لري او ځان نه بایلي

مردان هغــه دي چې همتناک وي
پــه هره چــاره کې چست و چالاک وي
که غم پرې راشي پروا د غم نه کا
خواره له هره چا په زیست و ژواک وي
(ختېک، ۱۳۸۷، ص: ۴۹۷)

دمېړني ځانګړتیا دا ده چې د غم په وخت کې صبرکوي، په دې اړه خدای تعالی وایي که چېرې صبر ولرئ نو ستاسو کوچنۍ ډله به د دوښمن په لویه ډله بریالي شي: [سُو ٓرَةُ الأنفَال: ٦٥]
يَٰٓأَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى الْقِتَالِ ۚ إِن يَكُن مِّنكُمْ عِشْرُونَ صَٰبِرُونَ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ ۚ وَإِن يَكُن مِّنكُم مِّائَةٌ يَغْلِبُوٓا أَلْفًا مِّنَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُونَ
ژباړه:[اې پیغمبره (ص)!] مؤمنان (د کفارو په مقابل کې) جنګ ته وهڅوه. که ستاسي نه شل تنه صابران وي، نو هغوی به پر دوو سوو برلاسي شي؛ او که سل تنه داسي وي، نو د حق د منکرانو پر زرو تنو باندي به برلاسي شي. ځکه چي منکران داسي خلك دي چي پوهه نه لري.

بل ځای وایي:

نه سره سم دي واړه مېـــــړونه
نه سره سم دي دهــر چا زړونه
زړه هم هغه ګڼه چې لکه غرشي
که بـــــاندې راشي هزار غمونه
(ختټک، ۱۳۸۷، ص:۴۳۳)

دخوشحال بابا په نظر مېړه هغه څوک دی چې دسختی په وخت کې ځان ونه بایلوي هرې سختۍ ته ځان ونیولی شي په ټولو مشکلاتو کې زړور وي او ټینګ عزم ولري، مترددد او وسواسي نه وي، هراس او وېره ونه لري لکه چې وایي:

ګیدړ بې زړه دی وهم وسواس لري
مزری زړور دی کله هـراس لري
هغه مزری نـــه دی هغه ګیدړ نـه دی
په کاروبار کې چې زړه کوزاوپاس لري
(ختټک، ۱۳۸۷، ص:۴۹۶)

مېړنی له خپله قوله نه اوړي

مېړنی پښتون باید په خپل قول ټینګ ولاړ وي او له چاسره چې عهد وکړي بیا هغه عهد ترمرګه هم بدل نه کړي خوشحال خان ترهرې ورانۍ، دقول وراني سخته بولي لکه چې وایي:

و نور چاو ته وران مه وایه خوشحاله
چې په قول، عهدوران شي وران هغه
(ختټک، ۱۳۸۷، ص:۴۵)

بل ځای وایي:

یوه نښه درته وایم د بې شرم
په وعده په قول نه وي نرم ګرم
(ختټک، ۱۳۸۷، ص:۹٤)

بل ځای وایي:

مرد به خپله وینا ژغوري څوژوندی وي
د نامرد وینا نن شته، نشته سبا
(ختټک، ۱۳۸۷، ص:٥٤٦)

د وعدې په اړه خدای تعالی هم وایي چې کومه وعده چې ماکړې هغه به ترسره کوم او د الله تعالی وعده رېښتیا ده.

جَنّٰتِ عَدْنٍ الَّتِی وَعَدَ الرَّحْمٰنُ عِبَادَهُ بِالْغَيْبِ ۚ إِنَّهُ كَانَ وَعْدُهُ مَأْتِيًّا[سُورَةُ مَريَم: ٦١] ژباړه: د هغو لپاره د دائمي استوګنې جنتونه دي چې الرحمان (الله) له خپلو بندګانو سره د هغو نالیدلې وعده کړېده او دغه وعده په باوري توګه تر سره کېدونکې ده.

مېړنی به خپل پت ساتي

خوشحال بابا پښتني پت ساتل دمېړني پښتون وظيفه بولي که څه هم په دې لاره کې يې سراو مال تول لاړ شي لکه چې وايي:

دا يوه وينا دزړه په غوږو واورئ
چې بهتره د اورنګ تر سلطنت ده
سر دې درومي مال دې درومي پت دې نه ځي
د سړي د چارې کل خوبی په پت ده
(کامل
مومند،۱۳۸۵ل،ص:۴۳۴).

مېړنی به ســخي وي

سخا داده چې سړی دبې وزلوسره مرسته وکړي، ديو يتيم سر پټ کړي او ديوې کونډې نس موړ کړي او يو غريب ته لاس ور وغځوي، مگر ډېر ځله د بې وزلو سره بې پيسو هم مرسته کيږي، لکه يو بې سواده ته ليکل او لوستل ور زده کړي، يو بد کاره له بدې لارې راوگرځوي... خوشحال بابا مېړه پښتون دهغو باز غوندې گڼي، چې هم يې په خپله خوري او هم يې نورو ته ورکوي او نامرد سړی هغه مېږی او هغه موږک بولي چې هرڅه په غار کې ساتي:

چې وهل، خوړل، خورول کاهغه باز دی يا شاهين دی
چې يې سـوړې لـره وړينه يا مېږی دی يا فاره
(ختټک،۱۳۸۷،ص:۲۰۵)

په تېره بيا د ولسي مشر ياسردار سره خو داخوی لازم گڼي، څنگه چې دی په خپله هم ولسي مشر و نو دخپل خان په باب داسې وايي:

چې يې وشيندي خوشحال په غرو رغونو
لا به کله هغـه گنج ورکـوې بخته
و هرچاته مسلې د ساوت کا
خپله خونه ډکوي د بل غارت کا
په مسجد راځي پينځه وخته اذان کا
چې ذکات سرسايه نه وی مسجد وران کا
(رفيق،۱۳۹۷،ص۲۴۷)

مېړنی به ريښتين وي

مېړنی سړی بايد ريښتين وي او هېڅ کله بايد درواغ تر خولې ونه باسي خوصوصاً پښتون خو بايد هېڅ کله خوله په درواغو عادت نه کړي، خوشحال خان داخوی تربل هر خوی د مېړه له پاره ضرور گڼي، بلکې هغه خوله چې درواغ وايي له سره خوله نه بولي او وايي:

چې دروغ تر خولې و باسي کله خوله ده
چې ريښتيا ترخولې وباسي خوله هغه
(ختټک،۱۳۸۷،ص:۱۷۹)

په رینښتیا رینښتیا خبرو که عالم له چاسره دوښمنېږي هم، باید یو مېړنی په هېڅ وخت کې تر رینښتیا خبرې تېر نه شي دڅو پیسو او یا یومنصب دپاره باید حقیقت تر پښو لاندې نه کړي، په درواغو دچاصفت ونه وایي، په چا کې چې یو صفت نه وي دی یې له ځانه پورې ونه تړي، دچاپلوسی، غوړه مالی، تملق، اساس درواغ دي، مېړنی باید په هر کار کې له هر چا سره رینښتین وي او رینښتیا ووایي، په درواغو څوک ونه غولوي. خوشحال بابا دپښتونوالي یو سمبول دی، دی وایي:

درواغ ویل اکثره له طمعې یا وېرې څخه پیداکیږي، دروغجن به یا له چا څخه ویریږي چې دروغ وایي او یا به څه طمع لري، خو که څوک خوشحال خان غوندې مېړنی وي، هغه به هېڅ کله نه له چاڅخه سترګه کوي او نه به یې چاته سترګې وي، ځکه چې دمېړني په ختِه کې وېره او طمع نشته، څوک که یې لري هغه اصیل پښتون نه بلل کیږي، نو ځکه خوشحال خان وایي:

دروغ ویل هغه کا چې یې وېـــــره وي یا

طمع

خوشحال په دا اړ نه دی حق به وایي څو یې

سرشته

(ختیک، ۱۳۸۷، ص: ۱۷۱)

د دروغجن شپه هېڅ کله هم نه سبا کیږي، تل به یې ژوند تیاره وي:

ورځ یې ما لیدلې نه ده په درست عمر

خدای به نه کاسپین سبا د دروغجن شپه

(ختیک، ۱۳۸۷، ص: ۱۹٦)

خوشحال بابا د راستی او رینښتیا لار هغه لار بولي چې هېڅ ګمراهي په کې نشته او نه رینښتینو ته دجهان د بدخواهی څه خطره شته ځکه چې خدای (ج) درینښتینو مل دی او چا سره چې دخدای (ج) نصرت مل وي هغه په هېڅ میدان کې تر شا نه راځي او هر وخت په هر ځای کې به سرخرویه وي، دی وایي:

راستي لار ده پادشاهي پکې نشـته ګمراهي

د رینښتینو پـروا نشته د جهان په بدخواهي

د رینښتینو سره مل وي: تــل نصـــرت د الهي

د رینښتینو ځای جنت دی د قـرآن پـه ګواهي

(ختیک، ۱۳۸۷، ص: ۲۷۸)

که سړی هر څومره ډېر دولت او ثروت ولري اویا ډېرې ځمکې او جایداد یې وي خو چې دروغ وایي خوشحال خان هغه مختورن ګڼي او مال او دولت نه شي کولای چې ددروغجن د دروغو عیب ورپټ کړي، ځکه وایي:

که مختورن دی خو دروغجن دی

رینښتینی کله پــــه مخ خیرن دی

صفت یې مـــــه کړه د دروغجنو

که د ګنجونـو، دولت ځښتن دی

(ختیک، ۱۳۸۷، ص: ۴۵۱)

((خوشحال بابا واي چې په اتفاق کې ښادي او په نفاق او دروغو کې غمونه نغښتي)) (رشیدي، ۱۳۹۷، ص: ۱۸۷)

ځوځو ښادی دي په دې آفاق کې          واړه به بیا مومي په اتفاق کې
ځو ځو غمونه یا محنتونه دي          یا په دروغو یا په نفاق کې
(ختک،۱۳۸۷،ص:۵۱۵)

بل ځای خوشحال بابا رینښتیا ویل سره زر بولي او لکه په سرو زرو چې په هر بازار کې سودا کیږي او هر څوک یې قدر لري، رینښتیا ویل هم په هر ځای کې لوړ مقام لري او رینښتین سړي ته هر ځای د اعتماد او اعتبار په سترگه کتل کیږي او دده خبرې مني، خوشحال خان داسره زر داسې ستایي:

غیشی چې سم وي گزار پرې ښه کیږي
چې ښه سم نه وي گزار پرې نه کیږي
رینښتیا په هرڅه کې لکه سره زر وي
په لاس که زر لرې په زر هر څه کیږي
(ختک،۱۳۸۷،ص:۴۹۰)

د رینښتین والي په اړه خدای تعالی هم وایي چې هغه څه چې ما ویلي دي هغه رینښتیا دي:
قُلْ صَدَقَ اللَّهُ ۗ فَاتَّبِعُوا مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ [سُورَةُ آل عِمرَان: ۹۵] ژباړه: ووایه: الله چې څه ویلي دي رښتیا یې ویلي دي، تاسي باید یوه لوري ته مخه کړئ، د ابراهیم (ع) د طریقې پیروي وکړئاوابراهیم (ع) له مشرکانو څخه نه ؤ.

میړنی به لوړ همت لري
(( ځینو بې همتو او نا پوهو پښتنو چې یو وخت یې په مغولو، بل وخت یې په انگریزانو او نورو... خپله پښتواله، خپله پښتني ځمکه، خپل غښتلي زلمیان خرڅ کړي وو یا یې خرڅوي، دې خلکو ته مونږ صحیح پښتانه نه شو ویلای او نه یې پښتونواله په خپله پاکه لمن کې پریږدي)) (روحاني،۱۴۰۴،ص:۷۵)
خوشحال بابا وایي:

مردان هغــه دي چې همتناک وي
پــه هره چــاره کې چست و چالاک وي
که غم پرې راشي پروا د غم نه کا
خواره له هره چا په زیست و ژواک وي
(ختک،۱۳۸۷،ص:۴۹۷)

همدا دلوړ همت اغېزه وه چې، خوشحال بابا خپله دشلومبو غړکه داو رنگزېب له پاچاهی سره برابره بولي او ټولو پښتنو ته دا توصیه کوي چې، تاسې باید خپله آزادي، که څه هم دشلومبو له غړکې سره وي، په هغې پاچاهی چې دغلامی رنگ ولري ورنه کړئ، خوشحال خان چې خپله دشلومبو غړکه، داورنگزېب ترپاچاهی ښه گڼي علت یې همدا دی چې دشلومبو له غړکې سره آزاد ژوندون شته، دی وایي:

چې سړې شلومبې یې څښم په وخت داوړي
پاد شــــاهي د اورنگزېب ده زما غــړکه
(ختک،۱۳۸۷،ص:۱۴۸)

((د مغولي ښکېلاک بوللې هغه بوللې دي چې د مغولي واکمنۍ پر مهال رامنځ ته شوې دي په دې برخه کې یوازې د خوشحال خان نوم یادولای شو ))(آزمون، ۱۴۰۰ل.ل،ص:۱۱۸)

بل ځای خپل پوزي(بوریا) ته داورنگزېب مقام او لقب ورکوي او دا یې هغه عالي احساسات دي چې، ځان ته ددې خبرې اجازه نه ورکوي چې بل چاته سرټیټ کړي اویا بل چاته دمادي شیانو او څو پیسو دپاره تسلیم شي، خوشحال بابا وایي:

چې خوشحال باندې ناستی کا
دا پوزی نـه دی اورنگ دی
(خټک،۱۳۸۷،ص:۲۱۷)

بل ځای وایي:

دهمت په بال و پرسړی آلوزي
مرغه پورته الوته کا په وزرو
(خټک،۱۳۸۷،ص:۱۰۴)

په پای کې خوشحال بابا خپل ټول نظریات چې دلوړ همت دستایلو دپاره یې لري، په دې یوه بیت کې یې خلاصه کوي او مسلمانانو ته توصیه کوي چې په هر قېمت چې وي باید همت پرې نږدي، لکه چې وایي:

که آسمان دې دزمري په خوله کې ورکا
د زمري په خوله کې مه پرېږده همت
(خټک،۱۳۸۷،ص: ۵۵۰)

دا دخوشحال خان هغه وصیتونه وو چې مسلمانانو ته یې دلوړ همت په باب کې کړي دي اوهغه هم ددې دپاره چې، لوړ همت یې د مېړانې مهم رکن بللی دی او خوشحال بابا هم مېړنی او همتناک مسلمان غواړي.

مېړنی به د منت دارو نه خوري:

مېړنی پښتون که له لوږې او خوارۍ مړ هم شي، پښتني همت یې دانه مني چې دی دې د پردو نوکر شياويا هغو ته خپله پښتني ځمکه پرېږدي او یا دهغو دغرض دپاره دخپلو زلمیانو وینې تویې کړي او نه هم دمنت دارو خوري، خوشحال بابا وایي:

دمنت دارو که مرم په کار مې نه دي
که علاج لره مې راشي مسیحا هم
(خټک،۱۳۸۷،ص:۵۷۷)

خوشحال خان هغه سړی نامرد گڼي چې یو چاته څه ورکړي او بیا هغه وریادوي او منت ورباندې ږدي او یاهر چاته دهغې ښېگڼې ذکر کوي، نو وایي:

نامرد هغه چې چاته څـــه ورکا
منت د پـــــاسه بانـــدې زبر کا
په رنځ کې ومره هغه دارو مه خوره

چې په منت يې و تا څوک درکا

(ختیک،۱۳۸۷،ص:۳۷۷)

په دې اړه خدای تعالی وایي چې که تاسو چاته صدقه ور کړئ، نو بیا منت پرې مه باروئ ځکه چې منت ستاسو صدقه باطلوي: لکه چې خدای تعالی فرمایی:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تُبْطِلُوا۟ صَدَقَٰتِكُم بِٱلْمَنِّ وَٱلْأَذَىٰ كَٱلَّذِى يُنفِقُ مَالَهُۥ رِئَآءَ ٱلنَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ۖ فَمَثَلُهُۥ كَمَثَلِ صَفْوَانٍ عَلَيْهِ تُرَابٌ فَأَصَابَهُۥ وَابِلٌ فَتَرَكَهُۥ صَلْدًا ۖ لَّا يَقْدِرُونَ عَلَىٰ شَىْءٍ مِّمَّا كَسَبُوا۟ ۗ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْكَٰفِرِينَ [سُورَةُ البَقَرَة: ٢٦٤]

اې مؤمنانو! خپل خیراتونه په احسان بارولو او ازار رسولو، د هغه چا په څېر مه خاوري کوئ، چې خپل مال محضې خلکو ته د ښودلو لپاره لګوي او نه یې پر خدای ایمان وي او نه پر اخرت. د هغه د لګښت مثال داسې دی، لکه یوه ښویه تیږه چې دوړه پرې ناسته وي، کله چې باران پرې وورېږي، ټوله دوړه ترې یوسي او تیږه هماغسې ښویه پاکه پاتې شي. دې خلکو چې په خپل ګومان سره د خیرات کومه نېکي ګټلې ده، له هغې څخه هیڅ شی د هغو لاس ته نه ورځي‌اوکافرانو ته سمه لاره ښودل د الله عادت نه دی.

مېړنی به غښتلی وي

یو معنوي غښتلوالی دی او بل ظاهري، معنوي غښتلوالی په علم او هنر پورې اړه لري، چې باید یو مېړنی په علم او هنر سره سمبال وي. او بل ظاهري غښتلوالی دی چې هغه په توره پورې اړه لري او دا دواړه قوتونه بیا پر روغتیاپورې اړه لري:

هغه څه دی روغ صورت دی

چې بهتر تر سلطنت دی

(ختیک،۱۳۸۷،ص:۲۴۶)

بل ځای وایي:

یاکشتي د زورورو سره مه کړه

یا د دوی غوندې پیدا کړه مړوندونه

(ختیک،۱۳۸۷،ص:۱۶۱)

نو په دې ترتیب دخوشحال بابا پښتونو ته د توریالیتوب مېړانې او غښتلوالي توصیه په دغه جمله کې خلاصه کوم چې وایي: (( پښتنو! توریالي، مېړني او غښتلي اوسئ! ! )) (بېنوا،۱۳۸۹،ص: ۹۱-۱۰۵)

او یا هم د زمري کلمه چې د مېړني له پاره هم راځي.د بېلګې په توګه:

فلانی ډېر زمری سړی دی یعني ډېر مېړنی سړی دی.لکه پخپله د ((بابا)) دا بیت:

د زمریـــــــــــو مړنتوب په لښکر نه شي

مې یې هر کله یوازې په خپل ځان شي

(ختیک،۱۳۸۷،ص:۶۳۲)

همدې نښې راوړنې ته سمبولیزم او وینا والو ته یې سمبولستان وایي.

خوشحال خان توره د یو داسې سمبول په حیث نه ده راوړې چې یو توکیز مفهوم په هر اړخ کې په سمبولیکه توګه ولېږدوي ؛بلګې ده توره د رنګا رنګو مفاهیمو لپاره کارولې ده؛ مثلاً دلته توره د هوډ او عزم لپاره رمز ګرځېدلې:

د افغـــــــــان په ننګ مې وتړله توره

ننگيالی د زمانې خوشحال ختېک يم

(ختېک،۱۳۸۷،ص:۵۷۹)

کله چې دخوشحال خان نوم اخلو، دبېلابېلوکسانو په ذهنونوکې بېلابېل خوشحالان راگرځي؛ ځينې ترهرڅه دمخه،هغه دسترشاعر په حيث پېژني،ځينې نوريې ديوه توريالي،قهرمان او غښتلي مبارز په توگه پېژني،خويوشمېرمحدود کسان،هغه دسترعالم اومفکر په حيث پېژني،خودخوشحال په باب داټولې خبرې سمې دي. له همدې امله ځينې کسان وايي،چې خوشحال خان څواړخيز شخصيت لري. يوپښتون ليکوال دده په اړه وايي: ((خوشحال خان سياستپوه و،سيلاني و، جرنېل و، تورزن و،عالم و، فاضل و، شاعر و، اديب و، حکيم و، فيلسوف و، منجم و، مصنف و، متقي اوپرهېزگارو، څه نه و، هرڅه و)). (روهي، ۱۳٦۰،ص:۲٦٦)

د مېړنی به له تورې سره مينه لري:

خوشحال ختېک ستر شاعر، مېړنی او جنگيالی، ښه نثر ليکونکی، د سياسي او ولسي جنبش لارښوونکی او هم د خپل وخت په علومو کې پوره وارد وو. د خوشحال خان په اشعارو کې که څه هم عرفاني او د انسان دوستی افکار ليدل کيږي، خو هغه د گورگانيانو له تسلط څخه د خپل ملت د ژغورنې له پاره د عدم تشدد او د مينې او محبت نغمې نه غږوي، بلکې باالعکس په توره تکيه کوي.( روهي، ۱۳٦۰،ص: ۲۱۸،۲۰۹)

خوشحال بابا وايي.

پــښـتـانــه چـې نــور څــه فـکـر کـا نـاپـــوه دي

بـــې د تورې خـــلاصـــی نـــشـتـــه په بل کـــار

( بېنوا، ۱۳۸۹،ص:۸۴)

خوشحال خان ته ځکه جنگيالی شاعر وايو چې دده ژوند، د جنگ او رزم يو تابلو ده؛بلکې هنداره ده، د ده شاعري د جنگ او جدل په خبرو ډېره درنده ده؛ خوشحال خان خپل د ژوندانه احوال له زوکړې تر وروستيو شېبو پورې د نظم ژبې ته ډېر ورسپارلی؛ خوشحال خان په يو لاس کې قلم او په بل لاس کې توره څرخولې او خپله مېړانه يې په قلم او توره کې د سترو نومونو په لړ کې د لومړيتوب تر حده رسولې. دده ادب، مروت، غېرت، عزم، سخاوت، نيلی ده په خپله هومره تېزلی، چې د مبالغې کولو باك يې نه دی پريښی. بابا وايې.

که سخا که فضيلت دی که خامه ده

په دا درې توکه زما تللې نامه ده

(ختېک،۱۳۸۷،ص:۹۳۷)

ده خپله توره او مېړانه په رښتيا هم اثبات ته رسولې او خلکو ورسره منلې هم ده. دی يو فوق العادة انسان ځکه ؤ. چې د ژوندانه هر اړخېزه تجربه يې لرله. هم عاشق ؤ. ٥م ملاؤ. هم عسکرؤ. هم پېشوا. او همدارنگه طبيب او مفکر شخصيت ؤ؛ خو مېړنی او جنگيالی ډېر ؤ، دی په خپله دا دعوه کوي. او وايي.

لا تـــراوســـه يې ماغزه په قرار نه دي

چا چې مـا سـره وهلی سر په سنگ دی

لا په خـوب کې په لړزه پرېوځي له کټه

چې د چا تر غوږو زما د تورې شرنګ دی

(ختیک،۱۳۸۷،ص:۲۱۵)

د خوشحال په شعر کې مېړانه د رنګارنګ مفاهیمونو لپاره کارول شوې ده: دا چې د خوشحال ټول ژوند د رزم او بزم په ځلیدونکو پلوشو کې را ایسار دی؛خو دا هم باید له هېره ونه ویستل شي؛چې دده ژوند او سیرت د پښتون ولس د ابدي حریت او خپلواکۍ په هیلو او بلن ښکاري. لکه د مخه مو چې وویل د خوشحال ژوند د تورې ښکار او جګړو سره لکه د روح او جسد یو ځای پاتې شوی؛ خو ده توره بیا داسې څرخولې، چې هم ترې غلیم د وینو ځاځکې توی شوي او هم د پښتون ولس د دود او دستور ولولیز شرنګهار د کرغېړنو میرځمنو تر غوږو رسېدلې په دې هکله بابا په خپله داسې وایي:

لا په خوب کې په لړزه پرېوځي له کټه

چې د چا تر غوږ زما د تورې شرنګ دی

(ختیک،۱۳۸۷،ص:۲۱۵)

خو د خوشحال په اشعارو کې توره یوازې توره نه؛ بلکې د غیرتي ولس د میړانې، غیرت، ننګ او ولسي سمبولیکو اشعارو په څېر راوړل شوې ده. ددې له پاره، چې د بابا په اشعارو کې د تورې بېلا بېل اړخونه تر څېړنې لاندې ونیسو اړینه برېښي چې د بابا دې وینا ته د قناعت غاړه کېږدو، چې دی یوازې د تورې میړنی نه وو؛ بلکې د تورې تر څنګ د قلم او سخا داسې دعوی کوي چې په خپل ژوند کې یې څرګند مثالونه وړاندې کړي؛وایي

که سخا ده او که توره که خامه ده

په دا درې توکه زما تللې نامه ده

چې و نه وهې په دواړو لاسو توره

چا ملکونه په میراث موندلي نه دی

(بېنوا،۱۳۸۹،ص:۸٦)

د ده دا دعوه یوازې د پښتون ولس پورې چا منلې نه ده؛ بلکې نورو نړیوالو هم ورته د تابعت غاړه کوږه کړې. اقبال لاهوري وایي:څه چې دده په اثارو کې ډېر د قدر وړ دي او د خلکو پاملرنه ځانته راګرځوي هغه دده د ازادۍ مفکوره ده چې غوښتل یې د فیوډالي ظالم حکومت څخه خپل قوم وژغوري او یو پیاوړی حکومت جوړ کړي. ( زېور،۱۳۸٦،ص. ۱۵۳)

اوس به دې بحث ته راشو؛ چې د خوشحال په اشعارو کې د مېړانې بېلا بېل اړخونه او اشعاري تعبیرونه راواخلو:

۱- د خوشحال مېړانه دیوې اسلحې په توګه

خوشحال خان د سردارۍ لپاره که نور هر څه اړین ګڼي خو توره هم د سلطنت او سردارۍ یو بنسټیز اصل ګڼي او وایي:

ورکول، تـــورې وهل دا دواړه بویه

چې پرې چار د سردارۍ شي انصر امه

(ختیک،۱۳۸۷،ص:٦۰۳)

ددې تر څنګ بابا توره خپل پلارنی میراث ګڼي:

ځان ګڼي لرم په سر کې
په میراث د تورو شور
یا:
هغه کار لکه دوه تورې سترګې وکا
هسې کار نشي په توره په لښکرې
(ختک،۱۳۸۷،ص.۳۲۰)

اوس به وګورو چې خوشحال خان توره د پښتون ولس د تورزنتوب او مېړنتوب د سمبول په حیث څنګه بولي:

۲ - د خوشحال مېړانه د افغاني سمبولیزم د یو سمبول په توګه

پر سمبول او سمبولیزم باندې د پوهیدنې په موخه اړینه بریښي؛چې په سمبول او وروسته په سمبولیزم ځان وپوهوو. سمبول د علامت او رمز اصطلاحي معنا ده یا د یوې واقعي مجازاً د خپل ځان نه لوی د یو بل شي نمایندګئ کولو ته وایي.د یو لفظ مجازي مفهوم ته سمبول وایي او په امانت ډول د یو نوم اخستل د یو بل شي لپاره راوړل چې یو ځانګړی مفهوم افاده کړي سمبول ورته وایي؛لکه د شمعې کلمه چې دعلم لپاره په رمزي ډول راوړل کېږي

او یا هم د زمري کلمه چې د مېړني له پاره هم راځي.د بېلګې په توګه:

فلانی ډېر زمری سړی دی یعنې ډېر مېړنی سړی دی.لکه پخپله د خوشحال دا بیت:

د زمریــــــــــو مړنتوب په لښکر نه شي
مټ یې هر کله یوازې په خپل ځان شي
(ختک،۱۳۸۷،ص:٦۳۲)

همدې نښې راوړنې ته سمبولیزم او وینا والو ته یې سمبولستان وایي.

خوشحال خان توره د یو داسې سمبول په حیث نه ده راوړې چې یو توکیز مفهوم په هر اړخ کې په سمبولیکه توګه ولېږدوي ؛بلګې ده توره د رنګا رنګو مفاهیمو لپاره کارولې ده؛ مثلاً دلته توره د هوډ او عزم لپاره رمز ګرځېدلې:

د افغــــــــان په ننګ مې وتړله توره
ننګیالی د زمانې خوشحال ختک یم
(ختک،۱۳۸۷،ص:۵۷۹)

کله چې دخوشحال خان نوم اخلو، دبېلابېلوکسانو په ذهنونوکې بېلابېل خوشحالان راګرځي؛ ځینې ترهرڅه د مخه،هغه دسترشاعر په حیث پېژني،ځینې نوریې دیوه توریالي، قهرمان اوغښتلي مبارز په توګه پېژني،خویوشمېرمحدود کسان،هغه دسترعالم اومفکر په حیث پېژني،خودخوشحال په باب داټولې خبرې سمې دي. له همدې امله ځینې کسان وایي،چې خوشحال خان څواړخیز شخصیت لري. یوپښتون لیکوال دده په اړه وایي: ((خوشحال خان سیاستپوه و،سیلاني و، جرنېل و، تورزن و،عالم و، فاضل و، شاعر و، ادیب و، حکیم و، فیلسوف و، منجم و، مصنف و، متقي اوپرهېزګارو، څه نه و، هرڅه و)). (روهي،۱۳٦۰،ص:۲٦٦)

**۷.پایله:**

خوشحال خان خټک د پښتو ادب هغه ځلانده ستوری دی چې د مېړانې مفکوره یې یوازې په شعر کې نه، بلکې په خپل عملي ژوند کې هم پلې کړې ده. د هغه شاعري د یو داسې انسان انعکاس دی چې مېړانه، ازادي، عدالت او غیرت د ژوند اساسي اصول ګڼي. د هغه دا افکار نن هم د پښتني ټولنې لپاره د لارښود حیثیت لري. د مېړانې دا مفهوم باید د نسلونو تر منځ وساتل شي، نه یوازې د تاریخ د مطالعې لپاره، بلکې د ژوند د لارښوونې لپاره هم.

**ماخذونه**


القرآن العظیم

آزمون،لعل پاچا.(۱۴۰۰ل.ل). ادب تیوري. کابل: سمون خپرندویه ټولنه.

بېنوا، عبدالرووف. (۱۳۸۹ل.ل). خوشحال خان خټک څه وایي. کوټه: صحاف نشراتي موسسه.

خټک،خوشحال خان. ( ۱۳۸۷ل.ل)دخوشحال خان خټک کلیات.پېښور:دانش خپرندویه ټولنه.

رشیدي،جمشېد. (۱۳۹۷ل.ل). ادب تیوري.کابل:نویسا خپرندویه ټولنه.

رفیق،محمد رفیق،(۱۳۹۷ل.ل). د ادب پوهنې بنسټونه. کابل: سمون خپرندویه ټولنه

روحاني، محمدنظیر.(۱۴۰۴ل.ل). خوشحال پېژندنه. کابل: سمون خپرندویه ټولنه.

روهي، محمد صدیق.(۱۳۰۶۰ل.ل). ادبي څېړنې. جلال آباد: ننګرهار پوهنتون.

زیور،زیورالدین. (۱۳۸٦ل.ل). دپښتو ادبیاتو تاریخ منځنۍ دوره. پېښور:د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیامرکز.

کامل مومند، دوست محمدخان.(۱۳۸۵ل). خوشحال خان خټک،پېښور:.دانش خپرندویه ټولنه.

یون، محمد اسماعیل.(۱۳۸۷ل.ل).اندیال خوشحال.کابل: یون کلتوري یون.

Howell, E. B., & Caroe, O. (۱۹٦۳). The Poems of Khushhal Khan Khattak. Oxford University Press / Pashto Academy, University of Peshawar.

Shāh, S. V. ‘A. (۱۹۹۲). Khushhal Khan Khattak aw Tarikhnawis   University Book Agency